


د ډاکتر شير آقا « حرکت » ليکنه


د نشر نيټه : ۹ می ۲۰۱۲ ميلادی


# الـهي ، قرآني او انساني فلسفه !

## فلسي بحث

د فلسفي علمي څيړنو او ارزونو په پايله کې مونږ دې نتيجې ته ورسيدو ،چې ځانګړي علوم په ځانګړې بڼه وجود نه لري . علوم په متداخل انټګرېشن او هريوپه ځانګړې توګه، هيڅکله انساني ذهني خلقت هم نه شي ګڼل کيدلی اودا ځکه ،چې علم او جهاني تکوين يو تر بله متقابل استلزاميت لري او دغه دواړه حالتونه دانسان په شمول يواځي الاهي مخلوق ګڼل کيږي .

ټول مادي موجودات ، له کوچنی ذرې څخه نيولې تر لويو سماوي اجرامو ، کهکشانونو او ټول عالم وجود « عالم الاسباب » (اُ نيورسيوم )، په کل او جز کې واحد تړلې نظام جوړوي ، وحدت الوجودي صفات لري او د الاهي لوی علم له مخې په قانونمند ډول پيدا ،پايي ، بدلون او پرمختيا مومي . دغه لوی خلقت ، لوی جهان او ټول ځانګړي مادي خلقتونه ،ځکه د الاهي مقضی الامر ارادې له مخې قانونمند پيدا دي ،چې يو تر بله سره د خپلو مقدراتو په تناسب مستلزماً خود پيدا ، خود بقاء ، قايم با لذات اوفنا نا پذير ګرځيدلي او يو تر بله سره هم متقابلاً دحيات او ژوند يواځينی زېرمه او زيږنده ګڼل کيږي .

که چيرې دا جهان قانونمند نه وې پيدا ، که چيرې انسان علم او پوهه او يو تر بله سره د هغی د انتقال قابليت نه لرلی ، يا که چېرې علم په کل کې جز لايتجزااو شکل د موجوديت د هر مادي موجود نه وې ،نو څه ډول او په کومه طريقه به فهم ، پوهې ،ادراک ، القاء ،احساس او نورو ذات البېني مناسباتو او ارتباطاتو عملي بڼه پيدا کولی ؟

مونږ په دې هم پوهیږو ،چې نه یوازې شعوري بلکه هر غیږ شعوري حرکت ، مناسبت ،بدلون ، تکامل ، پیدایښت او پایښت هم یوازې دتاکلي او ډیرې دقیقي قانونمندی په بنیاد منځته راځي او دغه ستر رسالت د مادي موجوداتو د خورا کوچنیواو خورا ساده ذراتو په وسیله تر سره کیږي ، خو خورا لوی او خورا مغلق موجودات ،څکه په کې بې برخې نه دي ،چې همدغه کوچني او ساده ذرات دهمدغه لویو او مغلقو موجوداتو زیږنده او حرکت یې هم ددغه موجوداتو مولود دې ، او یوازې د ابعادو دکمې او ځینې نورو کوچني نسبي تفاوتونو پرته ،ټول لوی او واړه موجودات یو تربله سره سیال مشابه نظامونه د ي او قانونمند د راکړې ورکړې مناسبتونه سره لري .

د دغه مناسبتونو د ترلتیا د اندازې د کچې په باره کې مونږ دمخه ویلي ووْ ،چې که په دې لایتناهي لوی جهان کې د کوچنی ذرې په اندازه رښتیني خلا رامنځته شي ، نو داټول لوی جهان به په کې غرق شي . اوس ددغه افادې له مخې مونږ پخپله د الاهي لوی جهاني نظام د ترلتیا د کچې تصور او قیاس کولی شو . دغه مناسبات ، د خورا کوچنیو ،خورا ساده ، خورا لویو او خورا پیچلو موجوداتو تر منځ دومره مغلق او عجیب وغریب دي ،چې حتا په هغې کې د اساسي او غیږ اساسي ،کهترئ او مهترئ او قوي او ضعیف مناسبت تمیز په کې ډیر مشکل کار بریښي .

انسان ته اکرم او اشرف المخلوقات او الا هي خلف مخلوق ویل شوی دې . دا په دې معنا نه ده ،چې ګوندې انساني ټول حواس ، مناسبات او ادراکات دې تر نورو مخلوقاتو ډیر قوي اوسي . یوازینی بر تري د انسان نطق او یو تر بله سره د ادراکاتو منطقي افاده ،علمي قانونمنده نتیجه ګیري او یوتر بله د معلوماتو د تبادلې قابلیت دې ، چې حتا ملائک له دغه اوصافو څخه عاجز دي او په همدې خاطر آدم (ع) ته په سجده مأمور وګڼل شول .

البته ، دې کې شک نه شته ،چې دغه صفت انسان ته دعلمي زیرمواو مقدراتو په بداینه کې لویه مرسته کړې او په همدې خاطر مونږ انساني فلسفه د بشري ذهني قانونمند علمي بدیل په حیث ځیړو او ارزوؤ . مونږ د ملایکو ، پیریانو ( جن )، حیواناتو ،الوتونکو ،چې ځینې یې خبرې هم کولی شي ، خزندو ،چې د ټاکلو مقرراتو او اصولو له مخې منظم ژوند هم لري د فلسفې په حیث هیڅکله نه مطالعه کوؤ ، بلکه د هغوی د ژوند کره وره د یوه نظام په حیث مطالعه کوؤ ،حال دا، چې هر نظام پخپله د ټاکلې فلسفې مبین او دالاهي فلسفې په متداخل انتګریشن کې ټاکلې مقام لري .

له انسان څخه پرته ، په نورو مخلوقاتو کې علمي او عملي قانونمندی ، معمولاً په ارثي لاشعوري بڼه په خلقتي عمودیت کې انتقالیږي، خو ځینې وخت د مختلفو خلقتونو په افقیت کې کیدلې شي ، په نظارتي تجربي بڼه هم انتقال شي .

د مثال په ډول د شاتو د مچیو د ګبین د جوړښت او موادو څخه حتا انسانان په ډیرو موارډو کې کته اخلي . په راتلونکې کې دغه پرنسیپونو او امکاناتو ته باید عمومیت ورکړل شي او باید د فلسفي انتګرالي متداخلو پروسو د څیړنو ،جز وګرځي . دا څرنې البته په راتلونکې وخت او نسلونو پورې اړه لري .

## ۱ ـ الهي فلسفه :

الاهي فلسفه په حقيقت کې همغه الاهي علم ته ويل کيږي ،چې له مخې يي دا لوی جهان ، ټولې پديدي او خلقتونه په قانونمند ډول پېدا ، پايي او بدلون او تکامل مومي . ځانګړي علوم او علم په کل کې د انتګرالي متداخلو، يوتر بله متأثرو پروسود کل او جزيه حيث ، يوائي الاهي خلقت ګڼل کيږي . انسان لپاره دالاهي کرم له مخې دغه ټول خلقتونه مسخر او مقدر ګرځيدلي اود معرفت لپاره يي ورته علم او پوهه ورکړي شوېده .
همغسې ، چې په لوی جهان کې د کوچنی ذرې څخه تر لويو سماوي اجرامو پورې په واحد تړلې نظام کې شتون لري او د يوې کوچنی ذرې په اندازه هم ، خارج له دغه نظام څخه هېڅ موجود وجود نه شي لرلی ،همدغسې الاهي لوی علم او قانونمندي تر اخريني ذرې پورې په ټولو موجوداتو محيط ګڼل کيږي . په نتيجه کې ويلي شو ،چې واحد خدای ، دخپل واحد لوی علم له مخې دا لوی واحد مکفي ،متعادل ، متوازن ،متناسب ، . . . ، او همداسې په ډېرو نورو اوصافو متصف جهان دخپلو مخلوقاتو لپاره د خپل لوی رحم ،کرم او لويي پېرزويني له مخې دلايتناهي او هېڅکله نه خلاصېدونکو نعمتونو څخه ډک او پر و معموروواحد او نه بېلېدونکي پيداکړي دی .
الله تعالی ځکه خپل لوی جهان او ټول خلقتونه د انسان لپاره مسخر او مقدر ګرځولي او دهغي په معرفت يي مکلف کړې ، چې د انسان ژوند ورپورې تړلی دی او دالله کلام ،دين او شريعت د الله د رحم ،کرم او لويي پېرزويني په معنا د علم او معرفت يواځينی خورا مناسبه او « صراط المستقيم » طريقه ګڼل کيږي .

نن هېڅوک په دې کې شک نه لري او ښه پوهيږي ،چې علم د ژوند په معنا او مفوم دی او هغه کسان ،چې په الله تعالی ايمان لر ي او مشرکان يو شان د خپل ژوند دتأمين په خاطر ، په روا او ناروا، د علم او پوهې د تحصيل لپاره هڅې کوي او حتا اګاهانه او نا خود اګاه ، دخپلو مادي ګټو په خاطر د علم او قانونمنديو د تحريف څخه هم ډډه نه کوي .

اسلامي پوهان ، چې په خپل خدای ايمان لري او د الله کلام کې د دين ،شريعت او ا لاهي احکامو او علم د رسی په کلکو ساتلو مأمور شوي هم دي ،الاهي مستقيمه او روښانه لار پرېښېي او د مشرکانو په تخيلي ګمراهانه تحريفي تيوريو کې ځانونو لپاره « صراط المستقيم » او د حقيقت رڼا لټوي .دالله د معرفت په خاطر ، درې لوی يو تر بله سره لازم و ملزوم حقيقته (لوی خدای ،لوی علم اولوی جهان )وجود لري .
خدای لوی ذات دی ،دانسان په شعور کې نه ځائيږي او انسان يي په عالم الاسباب کې ، د معرفت او توصيف څخه د تل لپاره عاجز دی او يواځې هغومره خپل خالق پيژندلي شي ، چې په الاهي کلام کې يي ذکر شوې او هغومره ،چې د الاهي لوی علم د قانونمنديو دمظا هرو له مخې يي په الاهي خلقتونو کې تبارز موندلي او انسان د خپلو مقدراتو په کچه ، له هغې څخه ، په خپل خدای باور ، يقين او ايمان پېدا کولي شي . پاتي کيږي د خدای لوی علم او دخدای لوی جهان ،چې مستلزماً د الله تعالی د مقضی الامر ارادې له مخې يو تر بله نه بېلېدونکي دي ، د انسان لپاره مسخر او مقدر او با المقابل انسان يي په معرفت مؤظف او مکلف ګرځيدلي دی .



www.said-afghani.org

دپورتني لنډ بحث څخه ډېر څه په څرګند ډول معلومېږي ،چې دمخه هم پرې ما « د عينيت فلسفه ، ښيرنې او ارزونې ، ډاکټر حرکت ، چاپ ۱۳۹۰ هجري شمسي ، يا 2011 م » اوږده او هر اړخيز بحثونه کړي او اوس هم ،چې زه ګورم ، زما مخې ته نه سد سکندر پروت دې ،چې د چا په خبره تر شا يې مطلقه تاريکي او يواځې بلاګانې ، ديوان او پېريان اوسېدلې شي ، نه د چين لوی ديوال او نه د اسمايي او شېر دروازې دغرونو په سر ختين ديوالونه ،چې د انسان قدم او نظر بند کړې شي او حتا د علم او تخنيک په اوسنيو پر مختګونو سره هم ترې تير نه شي . زه خو ،چې هره خوا مخ اړوم ، هرڅه راته رانه ښکاره ، هر څه راته قانونمند ښکاري او هر څه راته قابل د پذيرش او درک ښکاري .

زه په دې عقيده يم ،چې علم په هراړخيز مفهوم يواځې الاهي صفت او خلقت ګڼل کيږي ، او انسان ترې يواځې د الاهي خلف مخلوق په حېث ، دخپلو مقدراتواو الاهي پېرزوينو په کچه برخمن ګڼل کېدلې شي . دمخه د « دين او فلسفه » تر عنوان لاندې بحث کې ( د عينيت فلسفه ، ښيرنې او ارزونې،۳۳۲ مخ )مونږ دې نتيجې ته رسېدلي وو ، چې علم او دين د معرفت د سرچينو په حېث ،يو تر بله توپېر او تضاد سره نه لري او يو تربله سره معادل او اکوېوالنت ماهيوي او شکلي مسمی بهِ مفاهيم ګڼل کيږي .

ددغه منطقي قانونمندو ارزونو په پايله کې مونږ دې نتيجې ته رسيږو، همغسې چې علم يواځې الاهي صفت او خلقت ګڼل کيږي او يواځې انسان د هغې په کسب مقدور ګڼل شوې ،همداسې دين هم د علم په مفهوم ،يواځې الاهي صفت او خلقت او انسان د الاهي خلف مخلوق په صفت دخپلو مقدراتو په کچه ،يواځې د ديني شعائرو په درک او افاده مقدراو مکلف ګرځيدلې دې. همغسې ، چې الله تعالی واحد ، علم يې واحد او جهان يې واحد دې ،همدغسې بنده خدايان او د بنده ، بنده اديان هم وجود نه شي لرلې او تعدد د بنده خدايانو او د بنده ، بنده اديانو ، په تعدد د انساني حما قتونو پورې اړه لري .
انسانان کولې شي ، يواځې د الاهي احکامو ،قوانينو او قانومنديو مطابق ، د خپلو مقدراتو او امکاناتو په کچه موضيعي او لوکال قوانين او مقررات وضع کړي ،خو دغه قانونمندۍ او مقررات ، هيڅکله چاته ، نه د خدايي مقام او منزلت ورکولې شي او نه د الاهي دين قايم مقام ګڼل کېدلې شي . په دې مورد کې هر بې مورده تصور او تخيل پرته له حماقت بر حماقت له تسلسل او د تحمق د تعمق څخه بله معنا او مفهوم نه شي لرلې .

زه په دې عقيده هم يم ،چې ځانګړې علمي او ځانګړې ژبنۍ ترمنولو ژۍ ، ځانته ځانګړي ارزشونه ، معنا او مفاهيم لري او دهغې دغه ارزشونه ، په همغه علم او همغه ژبه کې تر هر بل علم او هرې بلې ژبې ، ډېر پرمعنا او دډېر ارزش وړ ګڼل کيږي او په ځيني وختونو کې ، همغسې چې يو شعر له يوې ژبې څخه په بله ژبه ژباړل ، شعر بې کېفيته او بې خونده کوي ، د ترمنولوژيو ژباړل له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته هم پوره مفهوم نه شي افاده کولې .

همدا سبب دې چې زه هڅه نه کوم ترمنو لوژۍ له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته وژباړم او اکثره ترمنولوژۍ دهغې د واضع په مورنۍ ژبه پکاروم ، او دا ځکه ،چې هره ترمنولوژي ډېر لوی هر اړخيزه مفاهيم افاده کوي او له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته ، نه ، د کلمې د اصطلاحې او نه د لغوي ژباړنې له لارې ددغه ډول هراړخيزه مفاهيمو ، ژباړ ل په حقيقت کې نا ممکن کار ګڼل کيږي .

شک نه شته ،چې ځیني ترمنو لوژۍ ،غبرګي کتګورۍاو مقولې ،چې ما پخپلو لیکنوکارولي ، لکه الاهي مقضی الامر اراده ،شعور او لاشعور ، مقضي او مقدره اراده ، همزمان او هم مکان ستاتیک ـ دینامیک لوی جهان ،همزمان او هم مکان زوړ او لحظوي بد لیدونکې جهان او ډېرو نورو ترمنولوژیو او مقولو په باره کې ، ما نه دي غوښتلي ،چې زیات توضیحات ورکړم ، ځکه چې دې کار به مسئله لا پسې غامضه او مشکله او له فهم څخه پرېبیستې وي ، خو زما په آند دغه اصطلاحات ما په خپلو خپلو ځایونو کې په کافي اندازه ارزولي او توضیح کړي دي او په راتلونکي کې به هم د احسن تکرار په حیث دغه کار وکړم .
ربښتیا هم ، کله چې مونږ یوه قضیه په یو بعدي او یا د کمو ابعادو په حدودو کې څېړو ، فهم یې له هغې څخه ، چې دډېرو ابعادو او فاکتورونو له مخې څېړل کیږي ، اسان دی . د مثال په ډول ، کله چې مونږ د مسطحي هندسې کومه قضیه څېړو ، د فضایي هندسې د قضایاوو څخه ، ډېره اسانه بریښي . یا کله چې یوه الوتکه د سکون په حالت په تجربوي لابراتوار کې څېړل کیږي ، له هغې څخه ،چې دغه څېړنه په هوا کې د الوتلو په وخت کې کیږي ، تصور یې ډېر اسانه دی .
یا که مونږ د برق په یوه لابراتوار کې ، دالکترولیت په انبیق کې یوه قضیه یواځې په یو بعدي سیستم ، یعنې یواځې د فزیک ، کیمیا ، ترمو دینامیک ، هایدرو دینامیک ، بیولوژیکي او یا نورو ځانګړو علومو د قوانینو په حدودو کې څېړو ، له هغې څخه یې تصور ډېر اسان دی ، کله چې دغه قضیه په همزمان او هم مکان متداخلو انتګرالي کامپلکسي پروسوي ابعادو کې څېړل کیږي .
د فلسفې په باره کې د مسئلې پیچلتیاد هرې بلې مسئلې په نسبت ، ځکه ډېره مغلقه او پېچلې ګڼل کیږي ، چې فلسفه د الاهي علم د انساني ذهني خلف بدیل په توګه ، ټول جهان شموله مناسبات او ارتباطات د عامو قانونمندیو له مخې افاده کوي ،چې تصور یې د هرانسان د مقدراتو څخه خورا اُچت ګڼل کیږي .
خو ددې ټولو خبرو سره سره ،بیا هم د پرنسیپ او اصولو له مخې دغه عمده اصل او فاکتورونه باید ، حد آقل په نسبي لحاظ په نظر کې ونیول شي .دا دراتلونکو علمي ـ تخنیکي پرمختیاغوښتنه او په ځیني قضایاوؤ کې جبر ګڼل کیږي او راتلونکې محاسبې په هېڅ صورت دغه ډول په پټو سترګو اعمال او یا په بل عبارت بې محاسبې کړه وړه نه شي منلې .
مونږ ولیدل ،چې څه ډول بشري ټولنیز شعور او فلسفې، د تاریخي پرمختیا په ګګلېچونوکې ، خپلې لارې ورکې کړي او شړو شدیارو ته وتلي دي . هراقلیطوس لا د میلاد څخه پنځه پېړۍ دمخه په دې باور وو ،چې همېشني بدلون او صیروریت په دې جهان کې حکمفرما او دهغې له مخې ټول موجودات ، که حیوان ، جماد او که نبات دې تغیر او بدلون مومي .
هرڅه په دې جهان کې تغیر مومي او هېڅ شي ثابت نه پاتې کیږي .مونږ یو ګل دوه وارې نه شو بویولې اودوه وارې یوه نهر ته نه شو داخلېدلې . یعنې ، دهراقلیطوس په آند د جهان ټولې پدیدې په لحظوي تغیر کې دي . څرنګه چې دغه ډول تغیرات په اور کې تر هرڅه چټک دي ،نو ځکه اور ، زئوس ،العیاذ با لله یواځینې ابدي واحد خدای ګڼل کیږي اونور خدایان یو په بل پسې له منځه ځي . د هراقلیطوس په آند اور ژوند دې او روح ،چې اصل د ژوند ګڼل کیږي ،پرته د اور له شعلې څخه بل څه نه دي ، کله چې اور په اوبو بدلیږي ،مري .
دهراقلیطوس په نظر اوریواځینې ابدي موجود دې ،چې هېڅکله نه سړیږي . اور ، دهغه په آند ابدي او ازلي دې ، وو او وی به او هېڅکله ژوند په هغې کې له منځه نه ځي . کوم نظام ،چې د



www.said-afghani.org

هغي په نتيجه کی عرض وجود کوي، هراقليطوس هغي ته « ناموس دکوَن» وايي او هرڅه ، چي مونږ په جهان کي وينو مجموعه د همدغه نواميسو ده او هراقليطوس هغه د « قانون » يا « اتفاق » او Logos د «کلمي په نامه يادوي . «تاريخ فلسفه در جهان اسلام ،حنا فاخورى و خليل جر ، صفحه ۳۶ » البته ، دهراقليطوس ډېرې ځرګندوني د علمي حقايقو او قانونمنديو سره سمون لري او ځيني يي داسي تخيلي ځرګندوني دي ،چي د علمي قانونمنديو سره هيڅ ډډه نه لګوي .خو په هر صورت هم هراقليطوس ، فيثاغورث،سقراط ، افلاطون او نورو په خپل وخت ډېرې باارزښته څېړني او ارزوني کړيدي او پکار دا ووٰ،
چي ددغه څېړنو او ارزونو علمي حقايق او تخيلي غېږ علمي ځرګندوني يو له بله څخه تفکيک او علمي حقايق په ځانګړي قانونمند ډول فورمول بندي او داستفادې وړ ګر ځېدلي واى . له بده مرغه دغه رسالت لا تر نن ورځي پورې هم د عالم خلف مخلوق د کار او فعاليت په روزنامچه کي نه دې په نخښه شوې ، چي څه وخت به پرې غور او لازمه پرېکړه کيږي .
مونږ عملاً وينو ،چي علم او تخنيک ، خصوصاً په شلمه پېړى کي او نن سبا ، څومره په چټکي سره پرمخ روان دي ، لکن فلسفي څېړنې نو ، د تاريخي دورې له پېل څخه تر نن ورځي پورې ، نه يواځي يو قدم مخته نه دي ايښي ،بلکه د هند دنامي فلسفي او خصوصاً د بوديز م په عقيده ، د بودا له وختونو څخه هم ډېره شاته پرېوتي دي .

په کوم منطق علم او تخنيک مخته ځي او فلسفه پرځښ روانه ده ؟
د مادي موجوداتو د ماهيت او شکل مناسبت ، چي دسقراط اوخصوصاً د ارسطو له زماني څخه ، چي د مقدوني سکندر ټول امکانات او په زرګونو پوهان يي په واک کي لرل اود هر موجود خارجي شکل ،چي هغه وخت د مادي موجوديت په صفت ، په غلطه تعبير شوې ، نن هم ، ټول پوهان په همدغه عقيده دي او هيڅ تغير په کي نه دې راغلې.
همغسي ، چي ارسطو ،دکارت ، کانت ،هګل ، چي تر نن ورځي پورې د منطق او فلسفي ، ايدياليزم او ماترياليزم سلطان ګڼل کيږي هم په پټو سترګو دغه طرحه منلي او نن هم د هغوى ټول پلويان د فلسفي ددغه تش په نامه اساسي مسئلي د بې مفهومه ترنګي څخه نه دي راوتلي .مارکس او انګلز دخپلو پېروانو سره ، چي د ماترياليستي تيورى رهبران وو ، تر اوسه پورې د ټولنيزو او شعوري پديدو په قانونمنديو کي ايدياليست پاتي دي او لنين چي د عملي سوسياليز نړيوال رهبر ګڼل کېده ، دخپلو دغه ډول ناسمو مفکورو او نړيوال سوسياليز م او کمو نيزم سره نور عملاً وجود نه لري .
ژان پول سارتر ، چي د Existentialismus يا Existentialism يعني وجودي يا وجود ګرايي فلسفي لار ښود وو ، د خپل ژوند تر وروسى ورځي پورې په دې عقيده وو ، چي علم يو شي دي او فلسفه بل شي دې . همداسي ، سره ددې چي الاهي احکام د دين دعلميت او منطق په اړه په ټولو مواردو کي صراحت لري ، بيا هم اکثر اسلامي عالمان نن هم په دې عقيده دي « چيرې چي دين دي ، فلسفه وجود نه لري او چيرې چي فلسفه ده ،دين وجود نه لري » ،حال داچي دين علم اوعلم دين دي او دواړه يوشان د معرفت لارې چارې ګڼل کيږي .

نژدې ځلوېښت کاله دمخه ،ماد فلسفي داساسي مسئلي په باره کي خپل پرېکړنده نظر په ځرګنداو قاطع ډول هيوادوالو او نړيوالو ته اعلان کړې او هغوى مې ددغه بن بست او حتا په شا تګ څخه ، پرمختګ ته رابللي دي او په مختلفو اړخونو کي لازمي څېړني او ارزوني هم سرته رسيدلي دي .
خو بيا هم له بده مرغه ، د يوه لاس د ګوتو په شمېر ،چي ځينو دوستانو تشويقي ملاتړ کړې دي ، د کاري ملاتړ ژمنه تر نن ورځي هم د کوم چا لخوا نه ده اظهار شوې .

سره ددې چې ما خپل نظريات او عقيده په شفاهي او ليکلي توګه د جمعي رسنيو له لارې او چاپي اثارو په بڼه د کابل د علومو اکاډمی ، کابل پوهنتون ، ننګرهار پوهنتون او ځيني پوهانو ته مستقيم او نورو پوهنتونونو او علمي مؤسساتو او ټولو نړيوالو ته په مستقيم ډول او د پست ، بريښنا ليک او نورو وسايلو په ذريعه رسولي او نن هم دغه مواد او نظريات هر هيوادوال او مينه وال زما له « Facebook » څخه تر لاسه کولی شي .لکن تر نن ورځې پورې ، په شرق او غرب کې پوهانو او حتا ډېرو باصلاحيته او مسئولو مؤسساتو کامل سکوت اختيار کړې او د رد يا تائيد غږ يې له خولې نه دې راوتلی .

زه خپل ځان د کوم فوق العاده ابتکار جوګه او مبتکر نه ګڼم او په دې عقيده يم ، چې هره علمي او شعوري لاسته راوړنه تر هر څه لومړې جمعي زيږنده او ابتکار او افراد او اشخاص د خپلو مقدراتو په کچه ، څوک لږ او څوک ډير خپل رسالت سرته رسوي او په دې پروسه کې سهيم ګڼل کيږي ،او شخصي ادعاګانې او ځان ښودنه پرته له ناپو هی څخه بله جريره نه شي لرلی . دمخه ما د بن بست کلمه ذکر کړې .

دغه بن بست د بشر د تاريخي دورې د پېل څخه وجود درلود او هېڅوک دانه شي ويلی ،چې څه وخت دمخه له هغې دغه بن بست پېل شوې دې ؟ زه دومره ويلی شم ،چې دغه بن بست د فلسفي د اساسي مسئلې يعنې « جهان په مادي او معنوي ويشل او ددې پوښتنې راولاړول ، چې کوم يو له هغې څخه مقدم دې او په دې بنياد الاهي لوی واحد جهان په بېلو بېلو برخو ، عقايدو او نه پخلاکېدونکونظرياتو او دښمنيو درې ورې کول دي ».

بشري شاعرانه او فلسفي اغراق امېزه تخيل ددغه بن بست لوړ افقونه او څوکې په ځيني مواردو کې العياذ با لله ، تر عرشه هم اُچتې ګڼلي ، خو حميد مهمند ماشوخېل ورته د شعري اغراق زينه بللې او رحمان بابا يې هم د واقعي درويشانو د يوه قدم لپاره مقدر او مسخر ګڼي ، فارسی ژبې شاعرانو به هم په دې باره کې خپل شاعرانه اظهارات کړي وي ، خو ماسره يې نمونه په واک کې نه شته ، که څوک يې وښايي ، خوښ به شم .په دې طريقه څوک ددغه افقونو د تسخير لپاره هڅې کوي او ځانونه رسوي او ځيني کسان ،يواځې ددغه افقونو په ژوروکي داستوګنې د مکان په اختيارولو اکتفاء کوي .

د پښتوژبې متل دې « که غر لوی دې ، په سريې لار ده » ،خدای چې انسان د خپل علم له مخې خپل خليفه ټاکلی ، دا لوی جهان يې دخپل لوی علم له مخې قانونمند پېدا کړې او د همدغه انسان لپاره يې مقدر او مسخر ګڼلي او په معرفت يې مکلف او مؤظف هم ګرځولی ، امکان نه لري ، چې الله د خپلو ټولو لويو پېرزوينو او رحم او کرم سره سره ، ددې جهان سره د علمي کړو وړو لارې چارې دخپل بنده څخه پټې وساتي . دغه لارې چارې الاهي کلام دې ، الاهي دين ، الاهي شريعت او الاهي احکام ، قوانين او اصول دي ،چې د انسان په ژبه په محمد (ص ) نازل او ټول بشريت ته ابلاغ شوي دي .

دا په انسان او بشري ټولنې پورې اړه لري ،چې ولې ترې تراوسه غافل او بې خبره پاتي شوي دي ؟ دې کې شک نه شته،چې الاهي علم ، د الاهي جهان او الاهي خلقتونود تکوين ، پېدايښت ، پايښت ، بدلون او تکامل مسايل او په هغې پوهېدل او علمي څېړنې او ارزونې سرته رسول، اسان کار نه دې او دقديم څخه تر ابده پورې زماني او لايتناهي مکاني بعدونه ګزو ګام کول غواړي .

فلسفه د جهانشموله عامو قوانينو او محاسبو په ابعادو کې د قضاياوو او مسايلو قانونمندو څېړنو او ارزوونو قانونمند علمي انتګرالي تصور او تخيل ته ويل کيږي ، او په انساني مقدراتو او امکاناتو سره ، نه دغه ډول تخيل او تصور اونه دغه ډول محاسبې ممکن او اسان کار ګڼل کيږي او نه په ورځني عملي ژوند کې دغه ډول دقيقو محاسبو ته ضرورت شته ، خو په کل کې ، حتا ننني شرايط ددې اګاهي او زيږي ورکوي ،چې همدا نن ددغه ډول محاسبو سره ځانونه اشنا کول او اګاهي لرل ضروري او لازمي ګڼل کيږي .

يو وخت د کورونو جوړول هم نه محاسبه کېدل ، خو نن په غير دقيقو محاسبو سره جوړ شوؤ کورونو راتلونکي وخيم بريښي او اکثره دغه ډول کورونه ورانيږي او له سره په دقيقو محاسبو سره جوړيږي . ددې تولو خبرو څخه ډيره مهمه خبره داده ، نن هر څوک چې په پوره بې مسئوليتۍ سره ناسمې ، بې جوړه او بې مفهومه خبرې وکړي ، دمثال په ډول لکه « محمد صديق افغان » او يا لکه پخوانيو فېلسوفانو چې دغه ډول بې مفهومه او بې منطقه خبرې وکړي ، پخپله ، خو دځيني احمقانو په نزد فېلسوف شي او ټول تهمت يي په فلسفي پورې تړل کيږي .

حال داچې فلسفه دعالي قانونمند منطق او الاهي خلف ، انساني بديل علم ګڼل کيږي ، چې له مخې يي دالوی ابدي جهان او ټول خلقتونه پېدا ، پايي او بدلون او تکامل مومي . دا هغه علم دی ، چې د DNA په خورا کوچنۍ ذره کې ټول انساني ،حيواني او نور هر ډول ارثي خصوصيات نسل په نسل انتقاليږي او که ذرونه کلونه پرې تېر هم شي دهر چا جينيتيکي اوصاف وروسته له

مرګه هم تثبيتېدلې شي . شک نه شته ،چې پوهانو خپل ټول عمرونه د علم د کسب او دقضاياوؤ د څېړنو لپاره مصرف کړي او ډېرې با ارزښته تيورۍ يي فورمولبندي کړيدي .

دوی دغه کار تر هغه ځايه پورې کړې ،چې فکر يي پرې رسيد لی او په کومو موضوعاتو ،چې يي فکر نه رسيږ ي ، بايد په خپله ناپوهۍ يي اعتراف يي کړۍ وای او په تخيلي ډول کاذبې او تحريفي غولوونکې تيوريو په طرحه کولو کې اغماض نه وې کړي .

که څوک وايي ، چې انسان په خپله ناپوهۍ نه شي پوهېدلی ، زه دا نه شم منلی .پوهان حتا د خپلو څېړنو پايلې هم په خپل علمي منطق سره تر لوړې کچې سنجولی شي . ما اکثره له دغه مسايلو څخه د نن ورځې د مروجه علومو د قانونمنديو له مخې ارزولي او فورمولبندي کړي او البته د ګستاخۍ له مخې نه بلکه د اصلاح په خاطر مې د ځينو نوروپوهانو ناسمو فورمولبنديو ته د انتقاد ګوته نيولې ده .

پخوانۍ طرح عمده مشکل داوو ،چې د فلسفې د اساسي مسئلې په د هغوی
د غلطو قيو داتو دهغوی او نه يي دي کړې شوي باندې يي باور درلودلی فورمولبندی اوغلطه
او تحريفي ناسمو تيو ريو ته د خپل علمي منطق په مټ علمي منطقي ځواب ووايي څخه ووځي

ما د فلسفې د اساسي مسئلې غلطه طرحه او فورمولبندي ماته کړه اودا ځکه ،چې ماده او شعور ذاتي تباين او توپير سره نه لري او دلايل او ثبوتونه يي هم په تېرو بحثونو کې راوړل شويدي ، اوس هر څوک کولی شي د هغې مطابق په خپلو تيوريو او فورمولبنديو کې اصلاحات راولي . دا دنن ورځې ضرورت دی ، دا ديالکتيکي جبر دی ، ددې منل ، هضمول او دهغې مطابق د ټولو چارو سمون پکار دي .

www.said-afghani.org

## ۲ ـــ قرآني فلسفه :

قرآني فلسفه د الاهي علم او کلام په صفت ، انسان ته د انسان په ژبه ، دالاهي علم او الاهي خلقتونو د خلقت هدف او رازونو قانونمنده او اسانه افاده کېل کيږي .ددغه فلسفي او افادي اسانتيا ، صراحت او بلا غت ، دهغې په قانونمندی پورې اړه لري . قانونمندي ددغه نظام يواځيني اساسي او بنياد ي شکل د موجوديت دی ، چې د علم په صفت يي دغه افاده د بل هرډول دليل ، برهان او ثبوت څخه مجزا ، مبراوو مقضي جبري ګرځولي ده . قرآنکريم د الاهي کلام په صفت ، د پرنسيپ او دافادی د ماهيت د مفهوم له مخي ،د الاهي علم او خلقتونو د خلقت د رازونو په تولو اوصافو سره متصفه ، همزمان مکمله او مختصره افاده کېل يږي .

نوځکه ، قرآنکريم ، چې دقديم څخه تر ابده پورې د الاهي همزمان ستاتيک اوديناميک ، همزمان نوي او زوړ او لحظوي متغير او متکامل ابدي جهان او تولو خلقتونو د تعاملاتي ترکيب او تجزيي مبين دی ، په حقه سره ، قرآنکريم ،تر تولو کتابونو همزمان پرمعنا او پرمحتوا او همزمان خورا لوی او خورا کوچني ممکن معجز کلام او کتاب ګڼلی شو .

قرآني فلسفه د الاهي کلام په حيث ، دالاهي علم له مخي ، دالاهي لوی جهان د تکوين ،« کن فيکون » ،پايښت ،بدلون او پرمختيا مکمله علمي قانونمنده برنامه او هر اړخيزه ، پرته له کم وکاست ،څخه قانونمنده افاده ده ،چې هر انسان په کې يواځې دخپلو مقدراتو او امکاناتو ،د کم وکاست په کچه ، خپل کمي او زياتي احساسوي . قرآني فلسفه د انساني مقدراتو او امکاناتو له مخي ، هميشه مؤجله او مقيده پديده ګڼل کيږي او دالله په کلام کې دغه ارزښونه د الاهي عالم خلقت ، عالم امر او پخپله دالاهي ذات او صفاتو د ماهيت او کيفيت د اصولو له مخي ، مسخر ،مقدر ، مؤجل ، مقيد او نا ممکن ګڼل شويدي .عالم خلقت او عالم امر دواړه په کل او جز کې د عالم الاسباب خلقتونه او پديدي جوړوي او د عام پرنسيپ له مخي ، دالاهي مخلوقاتو لپاره مسخر او مقدر ګڼل کيږي .

دا چې الاهي لوی جهان ډېر لوی آو په پرنسيپ کې يي لا يتناهي ګڼلی شو ، داچې بشري چارې د ورځنيو او لنډې مودې په زماني ابعادو کې تنظيميږي ،دا چې انساني چارې د ګنې او تاوان ، خپل او پردي او حتا موسمي وختونه او ډېر نور فاکتورونه په کې په نظر کې نيول کېږي ، مکاني او زماني ابعاد ،چې مليونونه او ملياردونه نوري کلونه وختونه او مسافې په منځ کې لري ، ځکه يي اکثر اوقات محاسبې او سنجشونه بې ګټې او بې مفهومه برېښي . دمخه مونږ د ايراني شاعر څخه په اقتباس سره ، چې ليکي :

ماز اغازو زانجام جهان بی خبريم اول وآخر اين کهنه کتاب افتاده است ؛

هندي فلسفه ، په دې عقيده ده ، کله چې بشر ، د يو څه شعور څښتن شو ، ددغه ورکو پاڼو په لټه کې شو ، همدغه لټوني او دهغې نتايجو ته فلسفه ويل کيږي . په دې موضوع د « عينيت فلسفه » ، څېړني او ارزوني ، د « روح ـــ ظهور ، بدلون او پايښت يي ، ۴۰۰ مخ » او « دين ـــ زيږنده او پرمختيا يي » ، ۴۳۲ مخ » او نورو موضوعاتو تر عنوانونو لاندې اوږده بحثونه شويدي ، لازم نه ګڼم ،چې بيا پرې بحث وکړم . خو دومره بايد ووايم ،چې نه د غه ډول کهنه کتاب وجود لري او که څوک دغه ډول ادعا هم ولري ، نو لومړی او وروستی پاڼي يي ، هيڅکله نه دي ورکی ، نه ددغه



www.said-afghani.org

پانو لتون او نتایجو ته فلسفه ویلي شو او نه دشاعر په یوه فرد سره فلسفه او فلسفي مسایل او قضایاافاده کېدلي شي . دا جهان په مستمر لحظو ي بدلون او نوښت کي دی ، ځکه خو ابدي دي او دزښت هیڅ کومه خاطره هم له یاده نه باسي ، ځکه چي دا جهان د الاهي علم له مخي قانونمند پیدا ، قانونمند پایي او قانومند بدلون او بر مختیا مو مي او هره محاسبه په هر زماني بعد کي ،چي وغواړو ،سرته رسولي شو او حتماً به لازم نتایج تر لاسه کوؤ .د اوس لپاره دا بحث همدومره کفایت کوي او که محترمو لوستونکو کومه پوښتنه درلودله ، کېدلي شي دوام هم ورکړو .

## ۳ ــ انساني فلسفه :

د انساني تولنیز طرز تشکل اوشعوري جمعي طرز تفکر ، فلسفي جوړښت او کړو وړو سره ، زه د خپل شخصي او تولنیز ژوند د ډېرو لومړنیو وختونو څخه په عملي او نظري مبارزه کي ښکېل او محصول یي زما د نژدي اویا کلن ژوند عملي سر ګذشت او د ژوند په مختلفو اړخونو کي دشعوري فکري فلسفي او سیاسي تراوش او مسلکي زده کړي ځواثار او په لسګونو، حتا سلګونو ، مقالي او رسالي یي شاید نماینده ګي وکړي . خو زما په عقیده ، بشري تولني د نن پرون ، د ګروپي ، سازماني او مملکتونو په کچه ، دمسایلو او قضایاوؤ د ارزونو له مرحلي څخه لا پخوا پېنه اړولي او دغه مفکوره زما په ذهن کي هغه وخت لا تینګه او پخلي ته ورسېده ، کله چي زه د حج دفریضي د ادا په خاطر ،په ۲۰۱۰ میلادي کال کي ، ببت الله شریف ته ولاړم او هلته مي د بشریت له پیدایښت څخه د قیامت تر ورځي پوري ، د بي حاکمه نظام ، بي پولیسه امنیت او بي قاضي عدالت او انصاف او د تبعیض او دښمنی څخه مبراتولنه او تولنیز ژوند ولیده .

ماته سمدستي د نړی او نړیوالو د مختلفو نظامونو او عقایدو د پرتلي او ارزونو مفکوره په ذهن کي راوګرځېده اوپه دي عقیده شوم ،چي د « الهي ،قرآني او انساني فلسفو »تر عنوان لاندي حقایقو څنګ په څنګ ارزونه کولی شي، مونږ ته دلویو مناسباتو او دیالکتیک په لور زمونږ سترګي او ذهن رناکړي .سره ددي ،چي د «عینیت او سیاسي »فلسفو په تېروځانګړو علمي ارزونو کي هم ما هڅه کړې ، چي د فلسفي مسایلو او قضایاوو ځو بعدي هر اړخیزه انتګرالي دیالکتیک هم په نظر کي ولرم ، خو دامي هم تل په نظر کي لرل ،چي قضایا دداسي کرکیچ او پیچلتیا لور ته کش نه شي ، چي پوهاوي پرې لوستونکو لپاره مشکل تمام شي .زه نه پوهېږم ، چي محترم لوستونکي به دغه واقعیت ځومره له ما سره ومني ، خودا یو منلي حقیقت دی ،چي د کمیت په لوړېدو،کېفیت همېشه کېفي بدلون مومي . مونږ د خالق او مخلوق تر منځ مناسباتو او دمسایلو د ځو بعدي ارز ونو په پایله کي همدغه حقیقت ته رسېږو ،چي هر ځومره انسان د الاهي فلسفي په ماهیت پوهیږي، همغومره د عدل ، انصاف ، عامه پېرزوینو ،توازن ، تناسب ، او . . . ددغه ډول نورو فاکتورونو له مزایاوو څخه مستفید او باور پرې پیداکوي .

الاهي فلسفه ، دالاهي لوی علم په تناسب د لویو نعمتونو او لویو پېرزوینو فلسفه ده .په دې فلسفه کي د بشریت په وړاندي بل هیڅ ډول قیودات وجود نه لري ، پرته له دي چي دنورو انسانانو حقوق باید پایمال نه کړي . دا فلسفه دډېر ښه ژونداو ډېرو ښو رواداریو فلسفه ده اود انسانانو ترمنځ ډېر لوی او ښه انسان ددغه فلسفي متقي او پرهېزګاره ګڼل شوېدي . په الاهي فلسفه کی،نه کمبود

www.said-afghani.org

دنعماتو ، نه کمبود دپیرزوینو اونه د قانونمندو منطقي غوښتنو ، ارزوګانواو هڅو په لار کي کوم قیو دات ، ممانعت او خنډونه وجود لري اوکه الله خپل مخلوق په طاعت او عبادت مکلف ګڼلی ،نو هغه هم ددې لپاره ،چي ددغه امکاناتو ، رواداریو او پیرزوینولارد همدغه « صراط المستقیم » او همدغه مجرا ځخه تیرږي .

دغه ډول دې الاهي علم ،الاهي فلسفه او الاهي معبودیت او بنده ګي ، خو زه په دې عقیده یم ،چي الله د خپل بنده ، بنده ګی ته څه ضرورت نه لري او دا هم د الاهي رحیم او کریم لوی ذات دلوی تضمین او لویو پیرزوینو څخه بل څه نه شي ګڼل کېدلی ،چي بیا هم ددغه لویو پیرزوینو څخه یي د سالمي استفادې په خاطر انسان ته علم او پوهه په برخه کړې او دلارښوونی لپاره یي د انسان په ژبه انسان ته ، قرآنکریم په محمد (ص) نازل کړې اوپه خپل وخت تول عالم بشریت ته ابلاغ شویدې .
دمخه مونږ په ځیني موضوعګانو بحث کړې او په هغه باره کي ماد خپلی عقیدې له مخي خپل نظر هیڅکله پټ نه دې ساتلی او خپله نهایي خبره مي واضح او په څرګند ډول کړې ده . یوه له دغه ډیرو مهمو موضوعګانو څخه علم او قانونمندي ده ، چي شکل د موجودیت دتولو موجوداتو ګڼل کیږي ، ژورجهاني تکویني زیر بنایي خصلت لري او طبعاً یواځي الا هي خلقت هم ګڼل کیږي . دین هم ، څرنګه چي الاهي معرفت او یواځي ، په علمي اساساتواو قانونمندیوولاړ دې هم یواځي الاهي خلقت باید اوسي او په هیڅ صورت د انسان او یا بل خلقت صنع او لاسته راوړنه نه شي ګڼل کېدلی . ځیني کسان ، رښتیا ، ځیني مفاهیم ، په غلطه په علم پورې تړي ، لکه چي په ترافیکي قانون کي به په شنه اشاره تیرېږې او په سره به ودرېږې ، یا کوم موټر ،څه وخت حق د اولیت لري او کوم یو په دوهمه او دریمه کټګورۍ کي قرار لري ؟یا ځیني تولنیز او اقتصادي قوانین لکه اداري نظامونه ، حقوقي او قانوني مؤسسات ، انستیتوتونه ،مالیاتي مقررات ، د کارد ساعتونو او مز د کچي او د سرمایي سره مناسبت ،چي معمولاً حاکمه طبقه یي په خپله ګټه فېصله کوي او اصلاً دغه ډول مقرراتو ته قانون او علم ویل سمه خبره نه ده .

علمي قوانین ، لکه چي دمخه وویل شول ، ژوره جهاني تکویني قانونمندي ده او هیڅوک هغي ته پخپل سر تغیر نه شي ورکولی ، حال داچي په تولنیزو او اقتصادي مناسباتواو ترافیکي مقرراتو کي کېدلی شي د زور او زر خاوندان په خپله تصمیم ونیسي او پرېکړې وکړي .لکن نریوال تکویني قوانین ،چي الله وضع کړیدي ، هیڅوک نه بدلولی شي اونه یي بل ډول وضع کولی شي .د الله په قانون کي دا منل شوې ، هر کله ،چي هایدروجن او اکسیجن سره یوځای کیږي ، اوبه به تري جوړیږي . کله چي ګرمه او یخه هوا سره نژدې کیږي په وریځ او باران به بدلیږي . دا ډول سل او زر مثالونه نور هم مونږ راوړلی شو . د همدغه قانونمندیو په بنیاد دا لوی جهاني نظام پیدا ، پایي ، تغیر او تکامل مومي .دا جهان تر دې اندازې قانونمند سره تړلی دی ، چي که چېرې د یوې ذرې په اندازه بنیادي تغیر په کي راشي ،نو دا جهان به ړنګ شي . دغه افاده په خپلو پخوانیو لیکنو کي هم ما په وار وار ذکر کړې ده .

په الاهي نظام کي انسان یواځي د خپلو مقدراتو په کچه مداخله کولی شي . له مقدراتو څخه اووښتل د قانون څخه دتیري او تجاوز په معنا دې او د الاهي مقضي قانونمند جبر په واسطه یي مخنیوې کیږي .په الاهي قانون کي ګذشت ، کامپرا ما یز ، واسطه ، تحفه ، رشوت اوهیڅ ډول ، بله وسیله نه منل کیږي ، یعني چي هیڅوک له دغه سرحد څخه نه تیرېدلی شي او نه دغه قانون ماتولی شي .



www.said-afghani.org

د الاهي نظام قوانين مثلاً قضاء او قدر اويا فرعي قوانين لکه تعادل ، توازن ، تناسب اونور ،چې د ټول جهاني نظام ، خلقتونو ،نعماتو د پېدايښت ، ابدي استمرار ، بقاء او علت او معلول ګڼل کيږي ، په حقيقت کې ، همغه الاهي رحم وکرم او عامه پېرزوينه ده ، چې پرته له تبعيض او کم وکاست څخه يي په خپل مخلوق لري . دغه ډول دالاهي پېرزوينې څخه يوښکلې ،د ميني ډک ، رنګين ، خوندور او مفيدنظام پرته د دغه ډول قوانينو له موجوديت څخه ،نه شي جوړېدلې .ددې جهان هره ذره او خښته په ټول جهاني نظام او ځانګړو موجوداتو کي په داسې قانونمند ډول ځای په ځای شوي دي ،چې دهغوی يو تر بله سره متقابل موجوديت او تأثير او تأثر ، د ډېرو نورو پديدد دايجاد او تکوين علت او معلول ګرځي .

دمثال په ډول که چېرې داتم موجوده فزيکي جوړښت او فزيکي حالت وجود نه درلودلې ، تر هرڅه دمخه به هيڅ عنصر وجود نه درلودلې ، د ويلانس قانون به نه وې ، ترکيب او تجزيي به وجود نه درلودې ،موجوده جهان ( علم الاسباب )به تشکل نه وې موندلې ، دې ټولو نعمتونو او غذايي موادو به وجود نهدرلودلې ، يعنې ژوند به موجود نه وې برق ،مقناطيسيت او نورواونورموجوده خلقتونو به وجود نه درلودلې . يا که چېرې ګېرو سکوپي قانون او ګېرو سکوپي مومنت موجود نه وې ، چابه سايکل ، موټر سايکل او موټر نه شوې ګرځولې او دنخښې ويشتل به هم ډېر مشکل وې .دتعادل ، توازن او تناسب په عدم موجوديت کې به په حقيقت کې هرڅه د سکون په حال وې ،نه به وربځ وې ،نه باران ، ګرم به په خپل حال او يخ به په خپل حال پاتې وې او د مېوو د بار داری امکانات به موجود نه وې .

مونږ دا ډول نور بې شمېره مثالونه هم راوړلې شو ،چې د هريوه په عدم موجوديت کې به بشري ژوند خو لا په ځای پرېږ ده ، چې العياذ بالله ،الاهي رحم وکرم به نيمګړې وې او يا په بل عبارت به دالاهي سخاوتمندانو پېرزوينو لپاره به دې موجوده نعماتو وجود نه درلودې . دا نظام تر دغې کچې دقيق ، قانونمند او ذره په ذره سنجول شوې دې او بيا وايم دا په حقه سره خپلو مخلوقاتو ته د الاهي رحم وکرم او لويو پېرزوينويوه ربښتينې بې مثاله رواداري ده . يواځې جاهلان دغه ډول يو نظام بمباري کولې شي . يواځې احمقان په دغه ډول رحم و کرم او بې غرضه لويه پېرزوينه سترګې پټولې شي .يواځې صم، بکم ،عمی رټل شوي شېطانان ددغه ډول لوی نعمتونو کفران کولې شي .

پکار دادي ، هغه انسان چې په حقه سره الاهي عالم ، اکرم ،اشرف او خلف مخلوق ګڼل کيږي بايد ټول ذات البېني انساني قوانين د الاهي قضاء او قدر ، تعادل ، توازن ، تناسب سره مقضي او مقدر ،متعادل ، متناسب ، متوازن او منصفانه وضع کړي او دکومې جنتي ټولنې بنياد ،چې پروردګار د خپل لوی علم له مخې په قانونمنده بڼه ايښې دې ، يو په يو عملي کړي .

راشی ، وګورو ،چې دغه الاهي عالم ، اکرم ، اشرف خلف مخلوق تر اوسه څه کړي او د څه لپاره ؟

نن د می د مياشتې لومړی نېټه ده .کارل مارکس په ۱۸۴۸ م کال کې د خپلې مبارزې کړنلاره «مانيفست »تدوين اود « نړی کارګرانو سره يوشی » په شعار يي ، په لندن کې ،د لومړي انترناسيونال د ګډونکوونکو په وړاندې نړيوالوته ،چې داضافي ارزش د تېزس په بنياد يي ، دغېر عادلانه سرمايدار ي نظام ، سرمايداري ذخايرو او سرمايداري استثمار او استعمار تيوري « کاپيتال » څېړلې او ارزولې وو ،اعلان کړ .

جان کنېدې ،د خپل اقتدار په وخت کې ليکلي وو ، چې که مارکس د سرمايداري مناسباتو لويه تاريخي څېړنه او ارزونه «کاپيتال » هم نه وې کړې ، يواځې دغه يوشعار ،چې « دنړی کارګرانو سره يو شی » ،کافي وو ، چې سرمايداري نظام په زوال محکوم کړي . ربښتيا هم د مارکس د

کاپیتال بی بدیله تیوري او لومړی نړیوال انترناسیونال په تولنیزو مناسباتو کی اوس هم د انعطاف او بدلون اساسي زماني مقطع او افق ګڼل کیږي او  له نن څخه  ۱۲۶ کاله دمخه یي هم د سرمایداري غیرعادلانه نظام مانی لړزولي او دنړی زیار ایستونکو ته یي داګاهی ، یووالي او مبارزې روح بخښلي وو . ۱۲۶ کاله دمخه ، په ۱۸۸۶ م کال کی امریکایي کارګران د کارل مارکس د ارزونو او مبارزې څخه په الهام سره دخپلو حقوقو د اعادې او په ورځ کی د ۱۸ ساعته او زیات کار په خاطر مظاهره وکړه ،خود هغه وخت ظالم حکومت د بی رحمانه عکس العمل په نتیجه کی په قتل ورسیدل . خو درې کاله وروسته په ۱۸۸۹ م کال کی د نیویارک د ښار په دوهم انترناسیونال د دوی غوښتنې د ۸ ساعته د کار ورځ او دمعاشونو د لوړ وال په خاطر ومنل شول .

خو ۱۲۶ کاله وروسته ،چې د استثمار کچه ، لسګونو قسمه بیمي ،مصارف ، احتیاجات ،غوښتنې او ډیرې نورې ارتیاوې او نیمګړتیاوې زیاتي شوي او دماهرو مسلکي کارګرانو په همت تقریباً ټوله صنعتي پروسه میکانیزه شوې ،دکارګرانو تعداد  نژدې  دي ،چې صفر او د بیکاره کارګرانو تعداد د ټولو اولسونو تعداد ته  تقرب وکړي . سرمایدار یوه روپۍ مصرف هم نه لري او هره ټنګه مصرف د مستهلک له جیبه پیرته راباسي ، سرمایه هرکال دوه، درې . . .او لس چنده کیږي ،خو د سرمایدار ګټه همیشه ناکافي او یواځې دا کارپاتي دي ،چې ددغه بیکاره کارګر د وجود په غوښو خوله ولګوي او دا خبره هم لرې نه ده ،چې د کارساعتونه بیرته زیات کړي .

کارل  مارکس ، چې دغه بی عدالتي عملاً په سترګو لیدله او د هغې د بعدي انکشاف تصور یي هم کولې شو ،اود کلیسایي سلطنت او سرمایداري نظام  بیداد او ناروا ،تباني او مشترکه مساعي په اروپا کی زره بوګنوونکي او دلخراشه صحنې جوړې کړې وې او داسلام د مقدس دین د ټولنیزو او اقتصادي ارزښونو، معیارونو او قانونمندیو د اګاهۍ څخه بی برخي وو او په اصطلاح «مارکسیزم » حتا ، نه ووکړې شوي ، د دکارت ،کانت ، هګل ، فیرباخ ، فیختي ، شلنګ ، اویناریوس او نورومختلفو ماتریالیستي او عیني او ذهني ایدیالیستي فلسفو دجړو مشوړو څخه لا سر نه وو را ایستلی ، په پټو سترګو یي حق او نا حق ټول ادیان ، یو شان د اولسونو لپاره اُپیوم ( اپین ) ګڼلي وو او په کل کی یي د دیني حقایقو اوارزښونو څخه کرکه بنودلې وه    .

مارکس د سرسخته ماتریالیست په حیث مدعي وو ،چې د فیرباخ د متا فزیکي ماتریالیز م او دهګل دد یالکتیک  په ارګانیک انتګریشن سره یي ، دیالکتیکي ماتریالیستي تیوري فورمولبندي کړیده . اول دا،چې پخپله یي دغه دیالکتیکي ماتریالیزم ، په دوه برخو ویشلی : دیالکتیکي ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم . یعنی ،چې مارکس پخپله ذهناً  د دغه دول  ارګانیک انتګریشن د استعمال څخه عاجز وو اود بلې خواپه واقعیت کی دا  په ربښتیني ایدیا لیستي اوماتریالیستي ارګانیک انتګریشن هم  نه وو او دا مسئله په حقیقت کی پخپله  هګل غلطه کړې وه ، چې خپل ذهني تراوشونه یي عیني ایدیالیزم ګڼلي وو او خپل ماتریالیستي دیالکتیکي قوانین یي د خپلی مطلقی ایده یا مطلق روح ، چې داسي پدیدې اصلاً وجود نه لري ،دمراحلو طبقه بندي ګڼلي وه . مارکس ، څرنګه چې په ټولنیزو او شعوري پدیدو کی ایدیالیست پاتي وو ، حال داچې ، په کراتو کراتو له دغه پولي یوې خوا او بلې خواته اووختي وو ،په خپل وار وار یي دوباره غلطي وکړه  او ددې لپاره ،چې څوک ورته کومه پوښتنه راجع نه کړي ، چې څواب ورته ونه شي ویلی ، نو یي ،بهتره وګڼله ،چې دیالکتیکي ماتریالیز م ، په تاریخي او دیالکتیکي ماتریالیزم وویشي . حال داچې دا دواړه د ویش وړ نه دي ، ځکه چې ، په دیالکتیک کی تاریخ او په تاریخ کی دیالکتیک وجود لري او دواړه یو تر بله سره ذاتي تباین او توپیر نه لري .یعنې چې مارکس یواځې د کلیسایي سلطنت او نوروحقیقي او

www.said-afghani.org

مجازي ادیانوسره تضاد نه درلود ، بلکه کوم نه پخلاکېدونکي تضاد ،چي د فیثاغورث ،سقراط ، افلاطون او ارسطو له وختونو څخه په فلسفه پاتي وو ، دمارکس په ذهن کي يي هم د حل لار نه وه موندلي او لا نن هم په خپل حال باقي پاتي دی . حال داچي له دېر شو کلونوزیاته موده تېرېږي ،چي دغه قضيي ته ما خپل قانونمند علمي منطقي بديل وړاندې کړی دی .

زه په دې عقیده يم ،چي د مارکس هغه وخت تضاد د دين سره هغومره ژور او نه پخلاکېدونکی نه وو ،لکه څومره ،چي د هغه وخت فلسفي سره وو .که د مارکس تضاد دفلسفي مسايلوسره په ربښتيني حل وي وای او داسلامي عقايدو ،احکامو او قوانينو دارزشونو د عدل او انصاف څخه اګاه وی ، حتماً به يي د اسلام مقدس دين او اسلامي نظام منلي وی ،ځکه چي مارکس په فلسفي مسايلو کي دمشکلاتو سره سره ، د ډېر قوي قانونمند منطق خاوند وو او د هغه وخت ډېر نامتو پوهان يي په لفظي مشاجره کي مخي ته نه شو دربدلی . مارکس دهمغسي اجتماعي او اقتصادي عدالت پلوي وو ،لکه چي په اسلامي احکامو او قوانينو کي وجود لري .زه پوره باور لرم ، نن هم،هغه کسان ،چي د قانونمند علمي منطق څخه اګاهي ولري ، هېڅکله به د د اسلام د دين د لوړو ارزشونو او الاهي لوی ذات او لوی علم څخه منکر نه شي . دا سمه خبره ده ، چي الله لوی دی او دانسان په شعور کي نه ځائیږي ، نو ځکه خو يي انسان له معرفت او توصيف څخه د همېش لپاره عاجز دی . خو، په خدای باندي د ايمان لرلو لپاره ، ضرور نه دی ، چي په خدای مستقيم کامل معرفت څوک پيدا کړي او ددې لپاره ثبوت ولري ، بلکه کافي ده ،چي يو څوک خپل کامل يقين حاصل کړي .

موږ،په څو جملوکي ،دالله رحم وکرم او لويه پېرزوينه او همداسي د انسان ظلم او ناروا په بل انسان ياد اوري کړل .دغه انسان ،چي د خپل همنوع په مقابل کي دظلم ،ناروا ،حسادت ،بغض او کينې څخه کاراخلي او هېڅ رواداري او پېرزوينه پرې نه لري او حرص،آز ، بخل اوخساست يي خپله پيشه ګرځولې ، ،کا شکی داسي معيارونو اوافقونو وجوددرمودلي ، چي دانسان خواهشات او غوښتني يي د ابد لپاره مشبوع کولي شولي .حال داچي د انسان هېڅ یوه غريزه هېڅکله د تل لپاره نه مشبوع کيږي ، بلکه د هرې غريزي لذت په دې کي دی ،چي انسان پرې غالب او هغه دتل لپاره ژوندی وساتي . دغريزي اشباع د غريزي مرګ دی .

همدا سبب دی ، هغه کسان ،چي زيات امکانات لري او خپل غرايز تل مشبوع ساتي د ژوند د هېڅ لذت ، خوند او کيفيت څخه هېڅ اګاهي نه لري .حتا ، حيوانات له دغه انسانانو څخه په دې خبره ښه پوهيږي او سره ددې ،چي د خپلو نفسي غرايزو څخه ،پرت له هر ډول قيودانو استفاده کولی شي ، نه يي کوي .بر خلاف انساني نفسي غرايز په بل هېڅ وسيله نه ارضاء کيږي ، مګر په يو شرط ، چي هغه څه ولري ، چي بل يي ونه لري . همدې ته ويل کيږي لعنتي ترين شيطاني خصلت او لعنتي ترين شيطان هم پخپله انساندې ، کله چي دغه ډول خواص پيدا کوي او ددغه عمل نوم ته هم يواځې انساني مضريت ويل کېدې شي .

دهمدغه مضرانو په ملکونو کي نيم نفوس د هغه مضره غازاتو ،زهري موادو او نورو او نورو په خاطر معيوب پيداکيږي ،نيم يي د چاغی نه په غضب اخته دي ، نيم دډېر مربښت نه ، په بې شمېره مرضونو ککړ دي ، نيم نفوس د ډېرې ولږې او خوارۍ نه په مرضونو او غضب اخته او نه رغيږي . دا بد بختان ،چي هرڅه لري د هېڅ نعمت په خوند او لذت نه پوهيږي . دوی خپل ځانونه پخپله په دغه بد بختيو اخته کړي دي او موږ دوی اخته کړي يو .

عادلانه پریکړه به کومه یوه وي؟ زما په نظر به عادلانه پرېکړه یواځې همداوي ، چې که مونږ ، همغسې چې اسلام ویلي دي نور ددوی ظلم او ناروا په ځانونو ونه منو ، په دوی ، همغسې چې اسلام ویلي ، بل ظلم ونه کړو ، یواځې خپل حق ترې واخلو ،نو هم به دوی له غضبه خلاص شي او هم مونږ .

په پورته ډول ما هڅه وکړه ،چې د الله ،قرآن او انسان تر عنوان لاندې یوه د سور او ساره او بودې او تنستې څخه وتلې فلسفي موضوع ، په خپل کم فهم ،درک او امکاناتو سره دومره را ونغاړم ، چې دګرانو لوستونکو په ذهن کې یې د انعکاس امکانات پیداکړې شي . زه فکر کوم ، ما وښودلې شوه چې الله تعالی دا لوی جهان ،د بې ساري او بې شمېره خلقتونو او نعمتونوسره د خپل رحم، کرم او پېرزوینې له مخې یو تر بله سره مکفي ، متناسب او ښکلې وکاسته پیدا کړي او هدف یې دټول علم خلقت په متقابل موجودیت سره ، د یوه داسې ابدي نظام جوړول دي ،چې هر فرد او کس په کې د خوشبخت او مستقل شخصیت احساس وکړي . زما په عقیده ، همدا ډول دې د الاهي فلسفې هدف، مرام او افاده ،چې په پورته څو لنډو جملو کې ما وغوښتل ، افاده کړم .قرآني فلسفه د همدغه الاهي مرام او هدف لنډه ،ساده ، فصیحه او بلیغه افاده ده، چې الله د خپلو احکامو ، قوانینو ،اصولو اوامرو او نواهیو په بڼه ، د انسان په ژبه د ټول علم بشریت لپاره، په خپل رسول محمد (ص) نازل کړي او هغه په خپل وخت ټول عالم بشریت ته ابلاغ کړې دي . ددغه رواداریو او پېرزوینو په مقابلکې ، مونږ د نا شکره انسان ناسم اوناوړه عکس العمل ته هم ګوته ونیوله ، چې څه ډول یې پخپله دغه جنتي ژوند د خپل شیطاني نفس په لمسونه دوزخي ګرځولې دي . ما په یوه جمله کې د حل لار هم په ګوته کړه . ماته هم دا پوښتنه مخې ته نېغه ولاړه ده او ډېرو نوروته هم به دا ډول پوښتنې پېداوي ، چې ایا رښتیا به وي ، داډول عظیمه لاینحله قضیه داډول په اسانۍ حل شي ؟ سره ددې چې په دې باره کې ما یو لنډ مثال ذکر کړې او بیا به یې هم تکرار کړم او دا هم وایم ،چې ولې نه ؟ کله چې ټول په خپل غضب اخته دي او دموضوع حل هم د ټولو په ګټه اوسي ، نوبیا هم ، ولې نه ؟ او که بیا یې هم څوک نه مني ، نو الاهي مقضی الامر اراده ، خو د هر قانون شکن لپاره ، مقضي قانونمند ،الاهي جهاني ، تکویني جبر ګڼل کیږي .

زه غواړم یو ځل بیا د انساني امکاناتو له لارې ، ددغه قضیې د حل په امکاناتو بحث وکړم .
د ۱۴۰۰ هجري ق کلونو اېلو ، د قرېشو دقوم دمشر عبد المطلب په کورنۍ کې یو یتیم ماشوم وزیږېده ،نوم یې پرې محمد کښېښود او سر پرستي یې هم نیکه ته ور پغاړه وه ، خو په اصل کې د رضاعي مور بی بي حلیمي سره اوسېده .په شیږکلنۍ کې یې مور وفات او یسیر هم شو . په اته کلنۍ کې یې نیکه ، عبد المطلب هم وفات شو او دده پالنه ، دده تره ، ابو طالب په غاړه واخیستله .

تاریخ ددې ټولو پېښو ګواه دي ، زه نه غواړم ددې موضوع په تاریخي اړخ بحث وکړم ، یواځې دومره غواړم ووایم ، چې ددغه ماشوم، دکوچنیوالي عمر دومره له حوادثو څخه ډک وو ، چې حتا د سواد له نعمت څخه هم محروم او امي پاتې شو . ددغه وخت د ټولنیز ژوند شرایط او طرز تشکل د جاهلیت په نامه شهرت لري . خلکو خپلې لوښې ژوندی ښخولې ، زیاتره انسانان وینځې او غلامان وو ،علم ، فهم ،درک په ډېره ټیټه کچه سره وجود درلود ، ولږه او غریبي دومره زیاته وه ،چې خلکو د یوې مړی ډوډی په خاطر بو بل سره وژل .په داسې شرایطو کې ،چې لا محمد په پیغمبری نه وو مبعوث شوې ، په یواځې ځان ، پخپل فکر او همت ددغه ټولو ټولنیزو بدبختیو بنیادي بدلون ته ، پرته د قوم ، قبیلې او کورنۍ له ملاتړ څخه ملا ترې . په څلوېښت کلنۍ کې په پیغمبرۍ مبعوث

او د خپل خالق په هدايت او ملاتړ خپل دين اولار اعلانوي ،د کورنى ،کلي ، کور او قوم څخه شړل کيږي ،رټل کيږي ، ولږه ،تنده او ډول ډول سختيو او مشقتونو سره مخامخ کيږ ي ، خو خپل عزم او همت له لاسه نه ورکوي ، ځان لپاره ياران ، ملاتړي پيداکوي او خپلې مبارزې ته دوام ورکوي .
دوى د کلي کور څخه شړل کيږي او په سوزنده دشته کې محاصره کيږي، چې له ولږې او تندې مره شي ، خو دوى په هيڅ صورت خپل عزم نه بدلوي او دخپل خداى داحکامو او هداياتو مطابق خپلې خورا علمي ، خورا انسان دوستانه او بشر دوستانه مبارزې ته دوام ورکوي او دجهالت د وختونو ناوړه تولنيز مناسبات يو په بل پسې ړنګوي .
دوى بالاخره ،مدينې منورې ته هجرت ته مجبورېږ ي ، هجرت کوي او له هغه محل څخه ابلاغ او بلنې ته دوام ورکوي . د مکي اوسيدونکي دوى پسې ،دجنګ په خاطر مدينې ته ځي ، خو تل دماتې او شکست سره مخامخ کيږي ، داسلامي دولت بنياد ټنګيږ ي او داسلام مقدس دين ته بلنليکونه او بلنه، دنړى د مخ سترو امپراطوريو ، ايران او روم او نوروهيوادونو ته ليږل کيږي او بالاخره هغه فتح کيږي او داسلام په مقدس دين مشرف کيږي او د۲۳ کلونو په موده کې داسلام لمن په ټوله نړى کې خپريږي او حضرت پيغمبر محمد (ص) په خپل ژوند کې ، مکې ته د حج د فريضې د ادا په وخت کې د اسلامي عدل او انصاف په بنياد ، د بې حاکمه نظام ، بې پوليسه امنيت او بې قاضي عدالت او انصاف او د تبعيض او دښمنى څخه ميراتولنيز نظام او ټولنيز ژوند بنياد ږدي اوددغه نظام قانون په مجموعي ډول د اسلام دمقدس دين د احکامو ،اوامرو او نواهيو کې ذکر او په مختصر ډول ځينې عمده ټکي ،د حج الوداع په خطبه کې په عرفات کې هم ذکر شوي دي .د ۱۴ پيړيو څخه زيات عمر له هغې ورځې څخه تيريږي ، په کومه چې حضرت محمد (ص) ددغه بې بديله عادلانه او منصفانه بشري نظام بنسټ ايښې دې او عملا په همغه ماهيت او کيفيت تر نن ورځې پورې وجود لري .

مخکې له دې ،چې دغه مضر عصبي او رواني ناروغان ،چې خپل، بې ارزښه ژوند يې زره وهلې او دبل او حتا د ټول بشريت ژوند اود بشري تمدن په ارزښ هم نه پوهيږي ، نن په افغانستان او يا بل هرځاى ،چې لاس بريږي ، په کليو ، ښارونو ،مکتبونو، حضيرو او کورونو ور ننوځي، بېګناه خلک وژني او د خپلې عصبي او رواني ناروغيو غوتې پرې سپړي ، يالکه په ناروې کې ،چې يو تن په ټاپو ورننوتې وو او تر ځوپورې چې پرې چاړواکي خبرېدل تر اتيا کسو ځوانانو پورې يې وژلي وو . د ډېر پام وړ ،خبره داده چې اکثره د دغه مضر عصبي او رواني ناروغان د لويو هيوادونو جمهور رئيسان ، يا هغه کسان دي،چې د ټول جهان نظامي ، سياسي او پولي واګې د دوى په لاس کې دي . نن چې دغه مسايلو سراسري نړيوال بحراني حالت غوره کړې ، هر وخت ممکنه ده دغه دسرمايي ليونيان د پولي بحران کوما ته ولاړ شي او دا غوره وګڼي ، چې « زه نه اوسم نو دا جهان دې هم نه وي » . مخکې له دې ،چې دا پيښه وشي ښه داوي ،چې دغه د سرمايوروانې ناروغان هر ځومره چې زر کيږي په رواني شفاخانو کې د دايمي تداوى لاندې ونيول شي . او په عوض يې هغه کسان مقرر شي ،چې لا اقل د خپل او دبل د ژوند په ارزښ پو هيږي . د سرمايي د ليونيانو د مسئلې په يوې خواته کېدوسره، دوهمه مسئله ،چې دعادلانه او منصفانه ټولنې جوړې دل دي ، اولسونه پخپله شعوري بلوغ ته رسيدلي ، حتماً به لازم قانونمند منطقي تصميم نيسي او په غېر صورت کې، د۱۴۰۰ کاله دمخه سرمشق بديل ،چې دهغه وخت په شرايطو کې عملي شوى ، د نن ورځې په شرايطو کې به حتماً د عملي کېدو قابليت ولري .

داکټر شير أقا « حرکت »

www.said-afghani.org